مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

تمهید سیلانی
۲۰۲۰/۰۴/۰۲

# د شعر په یوه قافیه کې دوه ګوني روي

د منظومو اشعارو په قافیوي جوړښت کې « روي » بنسټیز توری ګڼل کیږي، هغه دا چې پرته له روي د شعر قافیه نشي جوړېدی. په منظومو اشعار کې ګرده قافیه پر روي توري څرخیږي او همدا روي ده, چې د قافیې کلمې جوړوي.

دهخدا یې د قافیې د کلمو وروستی توری ګڼي، چې د کلمې له نفس څخه را وتلي وي او وایي چې روي له « روا » څخه اخستل شوی، معنایې رسی ده چې د اوښانو بارونه پرې تړل کیږي. دا چې دشعر جوړښت پر دغه توري تړلی دی، نو دا ویی یې رسی سره ورته کړی دی...

د پښتو او دري ژبو په شعري قالبونو کې په ځانګړې توګه په غزل، قصیدې، څلوریزو ... کې دا توری د ډېر ارزښت او اهمیت وړ دی، هغه داچې په سلو کې ( ۹۷٪ ) لیکل شوې غزلې، څلوریزې او قصید د قافیو په کلمو کې یو د روي توری لري. مګر د دري ژبو ځینو نومتو شاعرانو لکه : مولوي،سنایي او نورو دا قاعدې ماتې کړي او د شعر په یوه قافیه کې یې دوه رویان کارولي دي.

د دوی دا ډول قالب ماتونه موږ ته دا راښایي، چې موږ کولی شو په دوه ډولو رسیو په ډېره ښکلې بڼه د اوښانو بارونه وتړو.... د دوو رویانو کارونه د سنایي په غزلو او قصیدو کې شاو خوا پنځلس ځلې کارول شوي دي. د بېلګې په توګه زه د سنایي یو څو بیتونه تاسو راوړم چې په یوه قافیه کې یې دوه ګوني رویان کارولي دي.

تا نقش خیال دوست با ماست
ما را همهعمر خود تماشاست...
اکنون که ز باغ زاغ کم شد
بلبل ز ګل آشیانه آراست
بر هر سر شاخ عندلیبی است
زین شکر که زاغ کم شد و کاست
فریاد همی کند که باری
امروز زمانه نوبت ماست
( کاشفی، حبیب الله. موسیقي شعر فارسي. ص: ۱۶۸ )

که پورته بیتونو ته ښه ځیر شو، نو په مطلع او مقطع کې د روي توری « الف » او په دویم او دریم بیت کې « ت » دی. پوهیږم کله چې لوستونکي دا بیتونه ولولي، نو دا پورتنۍ قافیوي شننه ورته ګونګه او پېچلې ښکاري. زه غواړم یو څه سپړنه او وضاحت ورته ورکړم.

•لومړی بیت ( مطلع ) او وروستی بیت مقطع: په دغو دواړو بیتونو کې د قافیو دکلمو ترڅنګ ردیف هم شته. د پارسي دري ژبې په ګرامري قواعدو کې چې کله دوه ((الف)) څنګ په څنګ راشي یو ترې حذف کیږي، نو د لومړي بیت او وروستي بیت د قافیو کلمې مرکبې کلمې دي او د یادو کلمو اصلي بڼه په دې ډول ده : ( ماست= ما است، تماشاست= تماشا است)، دا چې د ګرامري قواعدو له مخې یو الف حذف شوی دی، نو له همدې امله یې قافیوي شننه پېچلې کړې ده. نو اوس د یادو بیتونو قافیوي شننه داسې کولی شو:

است، است: ردیف دی.
ما، تماشا: د قافیې کلمې دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ما: د قافیو د کلمو هماهنګه برخه ده.
الف: په کي د روي توری دی. لکه څرنګه مو چي وړاندي یاده کړه، په دري ژبه کي روي د قافیي روستی توری دی...

•د دوو منځنیو بیتونو شننه

آراست او کاست : د قافیي کلمي دي. دغه کلمي بسیطي کلمي دي، نو ځکه یي یوازي د قافیي کلمي ګڼو او ردیف په کي نشته .
است،است: د یادو کلمو هماهنګه برخه ده :
ت : د روي د پېژندني مطابق د روي توری دی.

د پورته موضوع (( دشعر په یوه قافیه کي د دوو رویانو کارونه )) ماته په پښتو ژبه کي پخوا نه وه تر سترګو شوې، فکر کوم زما لیکنه په دغه برخه کي لومړنۍ ده. زه د پښتو ادبیاتو له هغو لیکوالو هیله کوم، چي د شعر په برخه کي لیکني کوي او تخصص لري، ترڅو د پښتو شعر موسیقی ته ځانګړي پاملرنه وکړي او زموږ ژبه له نورو ګاونډیو ژبو سره سیاله کړي.

زه شخصاً د ژبپوهني له برخي سره زیاته لیوالتیا لرم، دا برخه زما د خوښي برخه نه ده، لیکن کله چي په نورو ژبو کي مطالعه کوم، نو ډېر داسي څه را تر سترګو کیږي، چي زموږ ژبه کي حتی چا نه وي اورېدلي، نو ځان مسؤول ګڼم چي باید زموږ ژبي ته هم را دننه شي او لیکوالو ته د دا ډول موضوعاتو لاره پرانستل شي. ما د شعر د موسیقي ډېري نوري نایابه برخي هم را سپړلي دي، چي په نږدې راتلونکو کي به یي له لوستونکو سره شریک کړم ترڅو مینوال یي لا نورو لیکلو ته و هڅول شي.

زما راتلونکي لیکني د شعر د باندنی موسیقی په هکله دي،چي هغه عبارت دي له : « د هنري،لفظي، معنوي، التزامي، تلقیني، صوتي، تصویري، دروني، میاني، محجبوي او ابتکاري قافیو سپړنه او پېژندنه، د بی قافیي ردیف پېژندنه او سپړنه، د قافیي او ردیف برابرښت، د قافیي بدلون په ردیف او د ردیف بدلون پر قافیي، د شعر په موسیقی کي د ردیف او قافیي ارزښت، د شعري قالبونو په ترکیب کي د قافیي او ردیف ارزښت ...» دا هغه موضوعات دي، چي ما تر اوسه د پښتو ادبیاتو په هغو کتابونو کي چي د شعر د موسیقی یا قافیي په هکله لیکل شوي دي، نه دي لیدلي، زه فکر زموږ له لیکوالو دنویو پنځونو هیله کیږي، خو له بده مرغه زموږ ډېری لیکوال نوښت او پنځوني ته هېڅ پام نه کوي او غواړي چي په نوم یي کتاب چاپ شي...

### اخذ لیکونه:


1.قافیه و ردیف میانی و امکانات موسیقایي پایان نیم مصرع ها در دیوان شمس، نویسنده: حسنعلي کوثری لنګری.
2.موسیقی قافیه در شعرم. سرشک (( محمد رضا شفیعی کدکنی))، نویسنده: دکتر محمد رضا عمران پور.
3.کاشفی، حبیب الله. موسیقي شعر فارسی...
4.قاموس دهخدا

5. http://fazlollahnekoolalazad.blogfa.com/post/894/%D9%82%D8%A7%D9%81%DB%8C%D9%87-%DA%86%DB%8C%D8%B3%D8%AA-
6. http://shereno.com/post-14300.html
7. http://www.art-news.ir/372_%D9%82%D8%A7%D9%81%DB%8C%D9%87-%DA%86%DB%8C%D8%B3%D8%AA-%D8%B1%D8%AF%DB%8C%D9%81-%DA%86%DB%8C%D8%B3%D8%AA-%D8%A7%D9%86%D9%88%D8%A7%D8%B9-%D9%82%D8%A7%D9%81%DB%8C%D9%87.html




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولئ